خدمات حقوق مهاجرت برای افغان ها

ILSAA


IMMIGRATION LEGAL SERVICES FOR AFGHAN ARRIVALS

“سلامونه، زه علي يم. زه به ستاسو سره د ځينو هغو مهمو موضوعاتو اړوند مرسته وکړم چې تاسو يې ښايي د خپل وکيل سره په هغه حالت کې شريک کړئ چې کله په متحده ايالاتو کې دايمي اقامې ته غوښتنليک ورکوئ“.

# د قضيې پروسس کولو وختونه څنګه چيک کړئ

دا عادي خبره ده چې کله د غوښتنليک پريکړې ته په تمه اوسئ، څه نا څه تشويش وکړئ. علي کولای شي چې ستاسو سره د غوښتنليک د وضعيت په معلومولو کې مرسته وکړي او دا معلومه کړي چې ولې دغه غوښتنليک د توقع خلاف ډېر وخت نيسي.

1. د فورمې ډول يا قضيې ډول
2. د رسيد شمېره (نمبر)
3. د رسيد نېټه
4. د متحده ايالاتو د تابعيت او کډوالۍ د خدماتو اداري دفتر



Department of Homeland Security
U.S Citizenship and Immigration Services

**Form I-797C, Notice of Action**

**THIS NOTICE DOES NOT GRANT ANY IMMIGRATION STATUS OR BENEFIT.**

| | | |
|---|---|---|
| NOTICE TYPE<br>Receipt | | NOTICE DATE<br>June 1, 2017 |
| 1 CASE TYPE<br>I-130, Petition for Alien Relative | | USCIS ALIEN NUMBER |
| 2 RECEIPT NUMBER<br>WAC1791234567 | 3 RECEIVED DATE<br>May 08, 2017 | PAGE<br>1 of 1 |
| PRIORITY DATE<br>May 08, 2017 | PREFERENCE CLASSIFICATION<br>201 A1 INA ADULT CHILD OF USC | DATE OF BIRTH<br>March 21, 1965 |

JOHN D. SMITH
123 MAIN STREET, APT. 7

4 **USCIS Office Address:**
USCIS
California Service Center
P.O. Box 30111
Laguna Niguel, CA 92607-0111

**USCIS Customer Service Number:**
(800) 375-5283
APPLICANT COPY



زما د غوښتنليک طی مراحل يا پروسس ډېر وخت نيسي. ايا تاسو کولای شی په دې برخه کې مرسته وکړئ؟



بالکل. د متحده ايالاتو د تابعيت او کډوالۍ د خدماتو اداره (USCIS) ستاسو د قضيې اړوند تفصيلاتو او د طی مراحل وختونو د څېړولو په اړه څو ډوله داسي اختيارونه (آپشنونه) لري چې خپله يې کتلای شئ. دغه انټرنيټي وسيله په انګليسي ژبه ده. که تاسو د دغو وسيلو د کارولو سره راحته نه ياست، تاسو کولای شئ له خپل وکيل څخه وغواړئ چې ستاسو د قضيې د پروسس وخت ستاسو لپاره معلوم کړي.




زه څنګه کولای شم دغه آنلاين وسيله وکاروم؟



خوښ يم چې ستاسو سره مرسته وکړم. لومړی بايد تاسو د خپلې قضيې د ډول يعني (Type) په اړه ځينې معلومات راټول کړئ. تاسو کولای شي «د اقدام په خبرتيا» (Notice of Action) کې دا معلومات و مومئ. په دغه انځور کې دا ښودل شوي چې ستاسو د اقدام په خبرتيا کې کوم معلوماتو ته اړتيا لرئ تر څو د قضيې د طی مراحل د وخت معلومولو په وسيله کې يې داخل کړئ.

په دوهمه مرحله کې خپل معلومات «د قضيې پروسس کيدو د وخت معلومولو وسيلې» (Case Processing Times tool) ته دننه کړئ. «د قضيې پروسس کيدو د وخت معلومولو وسيلې» (Case Processing Times tool) انځور کښېکاږئ تر څو د متحده ايالاتو د تابعيت او کډوالۍ د خدماتو اداري (USCIS) د قضيې پروسس وخت د څېړلو ويب پاڼي ته لاس رسی ومومئ.





# زه ولې نه شم کولای د پناه غوښتنې غوښتنلیک د طی مراحل وخت معلوم کړم؟



زه نه شم کولای د دغې آنلاین وسیلې په کارولو سره خپل د پناه غوښتنې غوښتنلیک (فورم I-589) د پروسس کولو یا طی مراحل وخت معلوم کړم.



د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ د خدماتو ادارې (USCIS) سیستم د پناه غوښتنې غوښتنلیکونه په بیلا بیل ډولونو طی مراحل کوي، نو تاسو نشئ کولای په انلاین ډول د پناه غوښتنې غوښتنلیکونو د پروسس وخت معلوم کړئ.

د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ د خدماتو اداره (USCIS) د نورو وګړو په پرتله د ځینو افغان اتباعو د پناه غوښتنې غوښتنلیکونه په چټکۍ سره پروسس یا طی مراحل کوي. د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ د خدماتو اداره (USCIS) هڅه کوي چې د قضیې د ثبت څخه تر (۴۵) ورځو پورې تاسو ته د مرکې وخت وټاکي، او دا اداره هڅه کوي چې د افغانستان اتباعو لخوا ثبت شوي د پناه غوښتنې غوښتنلیکونه دوی ته تر رسیدو وروسته د (۱۵۰) ورځو په اوږدو کې پروسس یا طی مراحل کړي. اما د ځینو استثنایي حالاتو او د پروسس کولو ځنډ له امله ستاسو غوښتنلیک کیدای شي ډیر وخت ونیسي.

په داسې حال کې چې تاسو نشئ کولای د پناه غوښتنې د غوښتنلیک د پروسس کولو د وخت په اړه معلومات په آنلاین ډول ومومئ، خو د قضیې وضعیت د ځیرولو وسیلې په کتلو سره دا معلومه کړئ چې ستاسو د پناه غوښتنې غوښتنلیک پروسه په کوم حالت کې قرار لری. خپل د قضیې وضعیت د معلومولو لپاره دغه لارښوونې تعقیب کړئ.

تاسو او یا ستاسو وکیل هم کولای شي چې د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ د خدماتو ادارې (USCIS) ته د قضیې په اړه د معلوماتو د تر لاسه کولو په موخه غوښتنه وسپاري. لاندې د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ د خدماتو ادارې (USCIS) په ویب پاڼه کې شته اختیارت یا آپشنونه دي. دا ګرافیک یا انځور په دري او پښتو ژبو ژباړل شوی تر څو ستاسو سره په کتلو کې مرسته وکړي چې د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ د خدماتو اداره (USCIS) په ویب پاڼه کې څه شتون لري. دا سپارښتنه هم کیږي چې یو وکیل ستاسو سره د غوښتنې په سپارلو کې مرسته وکړي.

[د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ د خدماتو ادارې توله انترنیتي وسیلې و ګورئ](#)

## د خدماتو غوښتنه

**املائي غلطي**

په یو قضیه کې املائي اصلاحات را ولیږئ

**د ملاقات اسانتیاوې**

د یوې مرکې د وخت لپاره د اسانتیاوو غوښتنه وکړئ

## د قضیې په اړه پلټنه

**د پُستې له لارې مو اسناد نه وي تر لاسه کړي**

ایا فکر کوئ چې اسناد به مو ورک شوي وي؟

**د پُستې له لارې مو کارت نه وي تر لاسه کړي**

ایا فکر کوئ چې کارت به مو ورک شوي وي؟

**د پُستې له لارې مو خبرتیا نه ده تر لاسه کړې**

ایا فکر کوئ چې خبرتیا به مو ورکه شوي وي؟

**قضیه چې تر معمول وخت یې ډیر وخت نیولی وي**

ایا فکر کوئ چې قضیه تر عادي وخت ډیر وخت په بر کې نیسي؟

## ولې زما د غوښتنلیک پروسه دومره وخت نیسي؟



ولې د قضیو پروسس دومره زیات وخت په بر کې نیسي؟



په متحده ایالاتو کې د کډوالۍ غوښتنلیکونه د بیلا بیلو خدماتي مرکزونو له لارې پروسس کیږي. هر مرکز ستاسو د کډوالۍ او د اوسیدو د ایالت په اساس پر ځینو ځانګړو قضیو باندي کار کوي. د مثال په توګه، د دایمي اقامې لپاره غوښتنلیکونه ډېر دي، او ځیني مرکزونو ته د هغوی د ظرفیت تر کچې زیات مراجعه کوونکي غوښتنلیکونه سپاري.
د پروسس کولو وخت په دې پورې هم تړاو لري چې ایا ستاسو د غوښتنلیک د تائیدۍ لپاره مرکې ته اړتیا شته او که نه. که چیرې اړتیا وي، نو ستاسو د انتظار وخت به په دې پورې تړاو ولري چې خپله دفتر څه وخت کولای شي د مرکې نېټه وټاکي او څومره کسان ستاسو څخه په لیست کې مخکې دي. دغه ټول دلیلونه دي چې ستاسو د قضیې د وخت په زیاتوالې کې رول لري.



آیا کوم بله داسې لاره شته چې دا پروسه چټکه شي او زما قضیه د خدماتو یو بل مرکز ته ولیږل شي؟



نه. تاسو نشي کولای د لیږد غوښتنه وکړئ، خو په ځینو مواردو کې، تاسو کولای شي خپل غوښتنلیک ګړندی کړئ. دا سپارښتنه کیږي چې له خپل وکیل څخه وپوښتئ چې آیا ستاسو غوښتنلیک د ګړندي کیدو پر شرایطو برابر دی او که نه او یا هم مخکې له مخکې، نورو افغانانو قضیو ته ورته، ګړندی شوی دی. په یاد ولرئ، د افغان اتباعو ځیني غوښتنلیکونه باید د وکیل لخوا نښاني یعنې (mark) شي ترڅو لومړیتوب ورکړل شي.

## څنګه کولای شي د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ د خدماتو اداري (USCIS) د پروسس وختونه ولولی



زما ورور هڅه کوي چې د هغه منل شوي د پناه غوښتنې غوښتنلیک یا اسایلم له لارې خپل ګرین کارت ترلاسه کړي. د ویب پاڼې په حواله، (۸۰) سلنه قضیې په ۵، ۲۹ میاشتو کې بشپړیږي. ایا د هغه د ګرین کارت غوښتنلیک به په ریښتیا هم دومره وخت په بر کې ونیسي؟



دا په دې معنی دی چې د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ د خدماتو اداري (USCIS) په تیرو شپږو میاشتو کې چې کوم غوښتنلیکونه پروسس یا طی مراحل کړي دي، د هغو څخه یې (۸۰) سلنه دومره وخت په بر کې نیولی دی. هره قضیه بیله وي، او ځیني قضیې ښایي تر نورو ډېر وخت په بر کې ونیسي. د پروسس کولو وخت یوازې د یو ماخذ په توګه کیدای شي و کارول شي، خو دا تضمین نه ورانديې کوي چې ستاسو د قضیې اړوند پریکړه به هم په همدومره وخت کې وشي.



خو زما د تره زوی خپل ګرین کارت متحده ایالاتو ته د راتلو څخه ځو میاشتې ورسته ترلاسه کړ.



داسې ډېر عوامل شته چې د متحده ایالاتو د دولت د پریکړې د وخت په برخه کې مهم رول لوبوي، د مثال په توګه، دا مهمه ده چې ستاسو د تره زوی د کډوالۍ څه ډول امتیازاتو ته پر شرایطو برابر دی، د کډوالۍ اوسنی وضعیت (که یې و لري) څه دی. داسې ډیر شرایط شتون لري چې کولای شي د قضیې پروسس کولو په وختونو کې توپیر رامینځته کړي. که تاسو لیواله یاست چې پوه شی چې ستاسو قضیه په څه ډول حالت کې ده، نو سپارښتنه کیږي چې تاسو د خپل وکیل سره د غوښتنلیک تعقیبولو په موخه پلټنه وکړی. بله کټوره سرچینه د متحده ایالاتو د تابعیت او کډوالۍ د خدماتو اداري (USCIS) د پالیسي لارښود دی. په دې لارښود کې دا معلومات ورانديې شوي دي چې تاسو څه وخت ګرین کارت ته د غوښتنې کولو پر شرایطو برابر کیږئ.

د دې سند مطالب یوازې د معلوماتي موخو لپاره چمتو شوی او باید د هیڅ ډول موضوع اړوند د حقوقي مشورې په توګه ونه ګڼل شي. د کډوالو او پناه غوښتونکو لپاره د متحده ایالاتو کمېټه (USCRI) د متحده ایالاتو د روغتیا او بشري خدماتو وزارت، د ماشومانو او کورنیو ادراې څخه د 140D0423C0027 نمبر قرارداد په اساس مالي سرچینې د آزادی سیالۍ له لارې ترلاسه کړې دي. د نویو راغلو افغانانو لپاره دمهاجرت حقوقی خدماتو پروژه ایلسا (ILSAA) سل سلنه(۱۰۰٪) د متحده ایالاتو د فدرال حکومت د مالي سرچینو لخوا تمویل کیزي.